# د رحمان بابا په کلام کښې دعلم بدیع هنرونه

# (Rhetorical expression in Rehman Baba's poetry)

**Dr M.Farooq Anjum[1]**
**E.mail farooqanjum.pashtonuml@gmail.com**
**Phone # 03445219018**
**Dr Asim Javaid**
**E.mail asimjavaids999@gmail.com**
**Phone# 03125691293**

Issn 2304-1463

## Abstract:

**Rehman Baba is a prominent figure and well known personalty in the history of Pashto literature. Despite of his poetic themes, his diction and expressions with the lingual reference are very important.He has a unique style and diction in his poetry.He used figurative language. It is not only eloquent but also strenuous.He is popular among all due to his artistic abilities and lingual aspects .The author of this paper has strived to unpack rhetorical expression the poetry of rehman baba.**

علم بدیع یا صنائع بدائع په کلام کښې لطافت راولي او شعر ته زینت وربخښي - علم بدیع یو مستقل علم دے او دا د علم بلاغت یو داسې شاخ دے چې په کلام کښې لفظي او معنوي خوبۍ زیر بحث راولي-

بدیع د عربۍ ژبې ټکے دے او دا د یو ادبي اصطلاح په توګه مروج دے - د دې د لساني اهمیت د جائزې اخستو نه مخکښې مناسبه به وي چې اول د علم بدیع په تعریف رڼا واچوؤ- په مختلفو لغتونو کښې د بدیع مفهوم څه دا ډول بیان شوے دے-

د فرهنګ اصطلاحات علوم ادبي تر مخه:

"بنانے والا، موجد، نیا، نادر، نو ایجاد شے۔ اصطلاح میں فصیح و بلیغ کلام کو مختلف لفظی یا معنوی خوبیوں سے آراستہ کرنے کا علم۔ وہ خوبیاں جو کلام کی زینت اور آراستگی کا موجب ہوں انہیں "محسنات" یا "صنائع بدائع" کہتے ہیں۔(۱)

د نور اللغات مطابق:

---

[1] **Asst, Prof Department of Pakistani Langanges, NUML, Islamabad**

"بدیع (ع یائے معروف) صفت، انوکھا، نادر، نیا، بنانے والا یا مؤجد، نو ایجاد شے"۔(۲)

د جامع اللغات مطابق:

"بدیع۔ (ع۔ صفت) انوکھا، نیا، نادر، عجیب، حیرت انگیز، نرالا، خلق کرنے والا، بنانے والا، خالق، مؤجد، (مذکر) نو ایجاد شے، خدا تعالیٰ کا ایک نام (بَدَعَ) بنانا، شروع کرنا۔ بدُعٌ۔ لاثانی ہونا"۔(۳)

د علم بدیع د فن مؤجد عبدالله بن المعز عباسي دے د دې فن دا نوم هم ده تجویز کړے ؤ او د علم بدیع ئې اؤلس قسمونه ښودلي ؤ- خو د ده همعصرعلامه قدامه په دې کښې د دیارلسو قسمونو اضافه وکړه - ده دې نه پس ابوبلال عسکري ، ابن رشیق شرف الدین تیفاشي او ابن ابي الاصع دې فن له ډیره وده ورکړه- ده وخت تیریدو سره سره په دې فن باندې په باقاعده او مستقله توګه عبدالقاهر جرجاني، ابو یعقوب یوسف السکاکي، علامه قزویني او سعد الدین تفتازاني او نورو کتابونو ولیکل -په "مختصر المعاني" کښې د علم بدیع په حقله لیک دي:

وهو علم، یعرف به وجوه ، تحسین الکلام اي یتصور و معانیها و یعلم اعدادها و تفاصیلها

ژباړه: بدیع هغه علم دے چې د کلام د خوبو طریقې پرې معلومیږي یعني د هغې د معنې تصور او په قدر د وسعت د هغې اعدادو او تفاصیلو علم پرې حاصل شي"-(۴)

د دې تعریف محمد حنیف ګنګوهي نور وضاحت کړے دے، هغه لیکي چې:

"علم بدیع وہ علم ہے جس سے مطابقہء مقتضی حال اور وضوح دلالت کی رعایت کے بعد کلام کے محسنات لفظیہ و معنویہ معلوم ہوں"۔(۵)

د دې نه دا څرګندیږي چې علم بدیع یو داسې علم دے چې په هغې سره په کلام کښې لفظي او معنوي خوبۍ پیدا کیږي- خو دا علم دې د مقتضائے حال مطابق وي او پیچیده دې جوړ نه شي بلکې دې سره دې په کلام کښې اثر او ښائست وجود کښې راشي- خو دا صفت په کلام کښې هغه وخت راتلے شي چې په کلام کښې د صنائع بدائع استعمال تر یو حده پورې وي او د دې

د بې ځایه استعمال نه ډډه وکړے شي په کلام کښي د صنائعو بدائعو مثال په خوراک کښي لکه د مالګي دے چې کله دا برابر وي نو ښه لګي خو چې دا د حد نه زیاته شي نو بده لګي او په طبیعت باندې بوج کیږي۔

محمد حنیف ګنګوهي د "نیل الاماني" په حواشي کښي د بدیع د اهمیت په حقله لیکي:

*" اس علم کو بدیع اس لیے کہتے ہیں کہ جو شخص اپنے کلام کو محسنات بدیعیہ سے مزین کرلیتا ہے تو گویا اس کا وہ کلام بے مثال اور انوکھا ہو جاتا ہے۔ نیز یہ لفظ بٹی ہوئی رسی کے معنی میں بھی آیا ہے گویا وہ کلام جس کا تزئین وجوہ محسنہ بدیعیہ کے ذریعہ تام ہو جائے۔ وہ ایسا ہے جیسے تلہری بٹی ہوئی رسی کہ مضبوط بھی ہوتی ہے اور خوبصورت بھی"۔(۶)*

د دې نه دا څرګندیږي چې د محسنات معنویه او محسنات لفظیه مقصد دا دے چې په شاعرۍ کي جمالیاتي قدرونه په ګوته کړے شي او د حسن د تخلیق اصول دې متعارف کړے شي په کلام کښې د دې اوصافو د شته والي نه دا خبره ظاهریږي چې حسن په پیکر کښي هم دے او مطلب و معاني کښې هم پروت دے۔ په دې وجه چې کله هم د صنائعو بدائعو خبره چیړلے شي نو په صنائع لفظي او صنائع معنوي ځانله بحث کیږي په دې سلسله کښې د دې فن پوهان لا په دې خبره یو خله نه دي چې آیا حسن په صورت یا لفظونو کښي دے یا د یوې فن پارې په معنی کښې - خو دا یو حقیقت دے چې حسن د لفظ او معنی په امتیاز کښي نه بلکه د دواړو په اختلاط او ارتباط کښې موندے شي د پروفیسر عابد علي عابد په خیال :

*"لفظ و معنی کو صرف نظریاتی طور پر جدا کیا جا سکتا ہے ورنہ لفظ، معنی ہی کی حقیقت کا ایک رخ ہے"۔(۷)*

د عابد علي د رائې نه دا مطلب اخستے کیدے شي چې صنائع او بدائع په یو وخت معنوي ښائسته والے هم راولي او لفظي حسن هم، که چرې په کلام کښې دا دواړه خوبۍ په یو ځائې پیدا شي نو بیا د بلاغت صورت راوځي، په دې وجه د بلیغ کلام د پاره د لفظ او معنی حسن د قدر وړ دے۔

په فارسۍ ، اردو او پښتو کښې د علم بدیع پوهانو د عربۍ ژبې په پیروۍ کښې هم هغه

تعریف کړے دے کوم چې په عربۍ ژبه کښې وړاندې کړے شوے دے- په عربۍ، فارسۍ، اردو او پښتو کښې د بیان شۀ تعریفونو کښې دا څیز مشترک دے چې په ټولو کښې د علم بدیع منصب، په کلام کښې لفظي او معنوي ښائسته والے پیدا کوي- په دې بابله د فارسۍ ، اردو او پښتو د سر سر د بلاغت د ماهرانو له اړخه وړاندے کړے شۀ تعریفونو ته نظر کوؤ چې هغوئ په څه ډول د علم بدیع د تعریف تعین کړے دے- مولانا اصغر علي روحي د علم بدیع په بابله لیکي:

"علم بدیع وہ ہے کہ جس سے مطلب واضح کرنے کے بعد کلام کو خوبصورت بنانے کے وجوہ اور اسباب کا پتہ چلے۔ ان وجوہ یا اسباب کو صنائع کہتے ہیں۔ ان کی دو قسمیں ہیں ایک صنائع معنوی، جس سے معنوں میں خوبی آئے، دوسرا صنائع لفظی، جس سے صورت آرائش پائے"۔(۸)

د فارسۍ نورو پوهانو د علم بدیع هم دغه تعریف کړےدے- د مثال په توګه شمس الدین فقیر، د علم بدیع وضاحت په دې ټکو کښې کوي:

"بدیع ایک علم ہے کہ اس سے چند امور ایسے معلوم ہوتے ہیں کہ وہ کلام کی خوبی کا باعث ہیں اور ان امور سے خوبی کلام کی یہ ہے کہ پہلے علم معنی اور علم بیان کے قواعد سے مزین ہو چکا ہو اس واسطے کہ اگر کلام ایسا نہ ہو گا تو ان امور کا کلام میں استعمال کرنا ایسا ہے کہ جیسے ایک بد صورت کو زیور پہنا دیں۔

بیت

زشت باشد و بیقی و دیبا

کہ بود عروس نازیبا

اور یہ کہنا کہ وہ امور کلام کی خوبی کا باعث ہوتے ہیں کہ پہلے کلام، صفات مذکورہ سے متصف ہوا۔ اس واسطے کہ یہ بات معلوم ہو جاوے کہ استعمال ان امور کا واجب نہیں بلکہ مستحسن ہے کیونکہ باوجود پہلی زینت کے اگر یہ زیور بھی اس کے ہمراہ ہو گا تو کلام کی زینت دو چند ہو جاوے گی اور اگر یہ نہ ہو گا تو زینت پہلی اس کے واسطے بہت ہے جیسے عروس خوبصورت پر زیور، موجب زیادتی رونق کا ہے، ورنہ حسن خداداد بھی دلربائی کی بات میں کم نہیں۔ بہر کیف ان امور کو

صنائع اور بدیع بھی کہتے ہیں اور صنائع اور بدایع دو قسم پر ہیں۔ قسم پہلی صنائع معنوی کہ ان سے معنی میں خوبی حاصل ہوتی ہے۔ قسم دوسری صنایع لفظی کہ ان سے لفظ میں خوبی حاصل ہوتی ہے"۔(۹)

يعني په کلام کښې د صنائع بدائع شته والے يو داسې اضافي قدر دے چې کلام ته جمالياتي رنګ وربخښي او د دې سره کلام د فني خوبو نه ډکيږي- د پورته ذکر شوي تعريف نه د شمس الدين فقير دا مدعا هم مخې ته راځي چې صنائع بدائع د اوچتې پائې د شاعرۍ د تخليق د پاره ضروري ګڼلے نه شي البته د دې موجودتيا د شاعرۍ تخليقي حسن ارو مرو په دوه کوي- دا حسن لفظي هم کيدے شي او معنوي هم-

د اردو په فن بلاغت کښې د علم بديع تعريف هم په دغه شان انداز کښې شوے دے په دې بابت کښې د څنو پوهانو رائے دلته نقل کوؤ-

دمولوي نجم الغني د قول مطابق

"بدیع ایک علم یعنی ملکہ ہے جس سے چند امور ایسے معلوم ہوتے ہیں جو خوبی کلام کا باعث ہوتے ہیں مگر اول اس بات کی رعایت ضروری ہے کہ کلام مقتضائے حال کے مطابق ہو اور اس کی دلالت مقصود پر خوب واضح ہو کیونکہ ان دونوں خوبیوں کے بعد ہی کلام میں محسنات سے حسن و خوبی آسکتی ہے۔ ورنہ بغیر ان امور کی رعایت کے علم بدیع پر عمل کرنا ایسا ہے جیسے بد شکل عورت کو عمدہ لباس اور زیور پہنا دینا اس وجہ سے اس علم کا مرتبہ علم معانی و بیان کے بعد سمجھا گیا ہے"(۱۰)

مرزا محمد عسکري د علم بديع مطلب څه داسې بيانوي:

"وہ علم جس سے کلام کی لفظی اور معنوی خوبیاں دریافت ہو سکیں"۔(۱۱)

د پښتو د بلاغت پوهانو هم د خپل پوهې او فکر مطابق د علم بديع وضاحت کړے دے- سيد تسنيم الحق کاکا خيل ليکي:

"بديع په لغت کښې نوي څيز ته ويلے شي اوپه اصطلاح کښې هغې علم ته وائي چې د کلام د ښائست او په نوي طرز د وينا طريقې وربانديې معلوميږي- د دې ښائست تعلق يوازې په شعر

پورې نه دے نثر پرې هم ښائسته کيدے شي او شعر هم ليکن په شعر کښې ډير څرګند وي او د شعر خوبۍ وربانديې زياتيږي او په زړه بانديې خاص اثر کوي"- (۱۲)

ډاکټر اقبال نسيم خټک په دې حقله ليکي:

"د علم بديع مثال د کالو پټرو دے لکه څنګه چې د ظاهري حسن آرائش د مرصع زيوراتو په ذريعه کيږي- دغه شان د ښه کلام آرائش د علم بديع د حسن کارۍ په ذريعه کيږي - دغه محاسن په دوه قسمه وي معنوي او لفظي، صنائع معنوي په معنو کښې ښکلا پيدا کوي او صنائع لفظي په لفظونو کښې حسن پيدا کوي"-(۱۳)

مشتاق مجروح يوسفزے ليکي:

" بديع په اصطلاح کښې هغې علم ته وائي چې د کلام ښائست پرې معلوميږي- يعني علم بديع هغه قاعدې دي چې که چرې هغه په کلام کښې پکار راوستے شي نو په کلام کښې به حسن پيدا شي"-(۱۴)

يعني علم بيان که په معنی کښې د حسن ، لطافت اور جدت خوبۍ پيدا کوي نو د علم بديع مناسب او په ځائې استعمال سره د فنکار د تخيل په پرواز او د ګفتار په نزاکت کښې هم اضافه کيږي- - د علم بديع ځنې صنعتونه داسې هم دي چې هغې سره رمزي او ايمائي کيفيتونه په زړه پورې انداز سره لوستونکي ته منتقل کيږي - دغه شان چې چرته فنکار د علم بديع پکار راوستو سره په کلام کښې د زړه راښکونکو کيفيتونو په وجود کښې د راوستو هڅه کوي نو هلته هغه په لاشعوري توګه ژبې له هم وَده ورکوي-

علم بديع د مشرقي شعر و ادب د روايت يوه برخه ده دا يو داسې فطري انداز دے چې د عربۍ ، فارسۍ، اردو او پښتو شعر و ادب په هر دور کښې پکار راوستے شوے دے- د پښتو کلاسيکي شاعرۍ کښې په دې علم مړه خوا عمل شوے دے، دې سره نه صرف پښتو ژبې پرمختګ ومونده بلکه د خپل خاص انداز له کبله ئې جدا ځان له شناخت او انفراديت هم قائم کړو- په دغه کلاسيکي شا عرانو کښې يو لوې نوم د رحمان بابا دے هغه فطرتاً يو داسې فنکار دے چې هر څوک د دهٔ د فن د کاملتوب اعتراف کوي ، د رحمان بابا ديوان که د سر نه تر پائې

پورې په غور وکتلےشي نو پکښې به ډېر هنرونه راڅرګند شي ولې چې د دهٔ ديوان د ادبي فنونو يوه بې بها خزانه ده- د رحمان بابا د شعر په سادګۍ او روانۍ ټول پوهان متفق دي خو هم د دې باوجود هغه په کلام کښې صنائع بدائع ډېر په خوند ناک ډول راغلي کړي دي چې د چا په خيال خاطر کښې هم نه تيرېږي چې بابا به دومره صنائع بدائع په خپلو اشعارو کښې راغونډ کړي وي- ځکه خو طهٰ خان د کليات رحمان په ديباچه کښې ليکي:

" رحمان بابا کی شاعری عرفان و آگہی کا بہت قیمتی سرمایہ ہے مگر اس سرمایے کو سمجھنے اور حاصل کرنے کے لیے لسانی علوم کی شدید ضرورت ہے یعنی علم معنی، علم بدیع، علم بیان اور علم عروض کے گہرے مطالعے کے بغیر بابا کے کلام سے پورا پورا لطف اٹھانا ممکن نہیں"۔ (۱۵)

د رحمان بابا کلام يوه لويه خزانه ده او هر رنګه ملغلرې پکښې مو ندے شي په ټو لو ادبي هنرونو رنګين دے خو د د دې باوجودپکښې رواني او سا دګي ځليږي او دا د هغه د کلام يو لوې خا صيت دے- په دې حقله محمدا جان حقپال وائي چې:

" د رحمان بابا په اشعارو کښې د نورو ادبي فنونو په شان د بديع د فن مقام هم جوت او څرګنده دې ځنګه چې د رحمان بابا کلام سليس او روان دې په همدې ډول رواني او سلاست ئې د بديع په فن کښې هم ليدل کيږي، او دا تر ټولو يو ډېر غوره صفت دې چې د پښتو ادب په شاعرانو کښې يوازې رحمان بابا ته په نصيب شوې دې- له هم دې امله ئې اشعار ډېر خواږه او رنګين دي او په هر ځل لوستلو ئې نوې مسايل رابرسيره کيږي"- (۱۶)

د رحمان بابا د شعر تاثير او خوند رنګ دومره زيات دے چې د صنائع بدائع محتاجه نه دے خو بيا هم د رحمان بابا غوندې قادر الکلام شاعر په خپلو شعرونو کښې د صنائع بدائع د لارې داسې لطافت او باريکۍ راوستې دي چې شعر ئې د حسن، معنی او هنر په لحاظ د فن معراج ته رسولے دي- علم بديع په دوه ډوله دے:

۱-صنائع لفظي، يعني د لفظونو ښائست

۲-صنائع معنوي، يعني په معنو او مفهوم کښې اثر او حسن

د دواړو محاسنو نه د رحمان بابا کلام ډک پروت دے او بې شميره مثالونه پکښې موجوددي- خو دلته ترې د نمونې په توګه څه لږ شان را اخلو-

## ۱- د صنائع لفظي لساني مطالعه

### تجنيس:

يو لفظ يا دوه همشکله لفظونه په بيلو بيلو معنو کښې استعمالولو ته تجنيس وئيلے شي- د دې ګڼ قسمونه دي-

### ۱: تجنيس تام:

دا په دوه ډوله دے:ا- مماثل تجنيس ب- مستوفي تجنيس

### الف-مماثل تجنيس:

په کلام کښې داسې همجنس لفظونه راوړل چې په نوع کښې هم يو شان وي- يا دواړه نومونه وي او يا دواړه فعلونه وي خو معانې ئې بدلې وي لکه:

د للمې سرې په مخ کښې آب وي چيرې
هغه خلق چې بې آب وي خو بې آب وي(۱۷)
هيڅ دمه مې د دمګرو په دم نشي
هم په دا چې زما دم وي ستا په دم کښې (۱۸)

### ب- تجنيس مستوفي:

په کلام کښې داسې کلمې استعمالول چې همجنسه وي خو معنی ئې جدا جدا وي، يو فعل او بل اسم وي دې ته تجنيس مستوفي وئيلے کيږي لکه د رحمان بابا په لاندينو شعرونو کښې:

کم خوراک سړے نژدې شي فرښتو ته

هر سړے چې بسیار خوار شي بسیار خوار شي (۱۹)

په دې شعر کښې اول ( خوار) فعل دے د خوړل د مصدر نه او دویم (خوار) اسم دے۔

ستا له غمه مې په مخ باندې وَلې دي

لړ مې اوپوښته له حاله چې ولې دي (۲۰)

په دې بیت کښې لومړے "ولې" اسم دے یعني لوئي لختے او بل "ولې" حرف استفهام دے د تپوس په معنی کښې راغلے دے۔

## ۲- تجنیس ناقص

د تجنیس د دواړو لفظونو تر مینځه چې د یو حرف نیم فرق وي دې ته تجنیس ناقص وئیلے شي لکه د بابا دا شعر:

په اول کښې تا دعشق وهلې لافې

هغه لافې دې اوس ولې کړې خلافې (۲۱)

په دې بیت کښې جامه او جم متجانسین دي په یو کښې په آخر کښې د بل نه د "ه" تورے زیات دے۔

## ۳- مرکب تجنیس:

په کلام کښې داسې لفظونه راوړل چې په شکل یو شان وي د حروفو په تعداد او ترتیب کښې هم برابر وي۔ خو یو لفظ مفرد او بل مرکب وي۔

لکه کاندي په کوترو نظر باز

داسې زه یم دلبرو نظر باز (۲۲)

په رومبۍ مصرعه کښې نظر باز، د نظر او باز مرکب دے- او په بله مصرعه کښې مفرد دے د کتونکي معنی ورکوي-

## ۴- تجنيس مضارع:

دا هغهٔ تجنيس دے چې په متجانسو کلمو کښې صرف د يو حرف فرق وي او دا حروف يو بل سره قريب المخرج وي-

ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مينه
مينه د خوبانو اوچوي د سړي وينه (۲۳)

په دې بيت کښې مينه او وينه متجانسې کلمې دي - د يو حرف فرق لري په مخرجونو کښې سره هم نزدې دي-

## ۵- تجنيس محرف:

د تجنيس په دواړو تورو کښې چې صرف د حرکاتو فرق وي-

چې پخوا تر قضا خپله رضا غواړي
بيهوده په لوټو ولې آسمان ولي(۲۴)

په دې بيت کښي په "وُلې" او "وَلې" کښې د حرکاتو فرق دے-

## ذوالقافيتين:

چې په شعر کښي دوه قافيې خوا په خوا راوړے شي، دې ته ذوالقافيتين وائي لکه د بابا دا شعر:

عاشقان د ناصحانو وينا نهٔ کا
مست هاتيان د مهوتانو پروا نهٔ کا (۲۵)

په دې بيت کښې ناصحانو او وينا ، مهوتانو او پرواه ، قافيې دي چې يو بل پسې شاعر پکار راوستې دي-

## صنعت تدبيج:

په کلام يا شعر کښې د وينا د ښکلا د پاره د رنګونو ذکر ته صنعت تدبيج وئيلے کيږي لکه د ګران بابا دا شعرونه :

که مې سره دي که مې سپين دي که مې تور دي
اوښو يوړو هر اسباب زما د سترګو (۲۶)
په زيړ رنګ به دې تل سرې اوښې بهيږي
د دوه رنګو په څير ګل د رعنا مه شې (۲۷)

## صنعت تلميح:

چې په يو شعر کښې مشهورې تاريخي واقعې ته اشاره وشي، دې ته تلميح وئيلے شي- دا صنعت هم د رحمان بابا په بيتونو کښې ليدے شي لکه:

چې يوسف ئ د دنيا په متاع ورکړهٔ
پيدا مه شه بل کاروان دا هسې شوخ(۲۸)
هر څوک چې د عشق په آتش سوي دي رحمانه
خدا ے دې ابراهيم غوندې نګاه کا په لمبو کښې (۲۹)

## سياقت الاعداد صنعت:

په شعر کښې د اعدادو مرتب يا غيرمرتب ذکر کولو ته سياقت الاعداد وائي لکه:

يو يې ساز بل يې آواز دے د لښتيو

دریم شعر پرې آغاز کا انتخاب
څلورم یې یو ساقي د څنګه ناست وي
چې مخې یې نه آفتاب وي نه مهتاب
دا څلور واړه فتنې په څلور کنجه
او پینځمه صراحي د میو ناب
شپږم وخت د نوبهار او وم ځواني وي
اتم شغل د کتاب نهم رباب (۳۰)

په دې پورته بیتونو کښې د اعدادو ذکر په ترتیب سره شوے دے-

## صنعت تکرار:

په کلام کښې یو کلمه د تدریج ، تاکید یا نورو اغراضو له کبله تکرارول- لکه د رحمان بابا دا شعرونه دا ادبي صنعت لري:

دریغه دریغه که وروستے عقل وړومبے وے
د انجام خبرې نه شي په آغاز (۳۱)
موقوف نه دے دغه کار په تور او سپین
چې رنګین رنګین مضمون پرې کښلے نه وي

## ترصیع:

چې د بیت د دواړو مصرعو اکثر الفاظ په خپلو کښې هم وزن او هم قافیه وي ترصیع ئې بولي- لکه د رحمان بابا دا بیت:

په حالت د عاشقانو نظر بویه

په زيارت د شهيدانو ګذر بويه (۳۲)

حالت، زيارت، عاشقانو ، شهيدانو ، نظر، ګزر، دا واړه ټکي وزن کښې يو شان دي او هم قافيه هم دي-

## صنعت اشتقاق:

په شعر کښې دوه داسې لفظونه راوړل چې د يو مصدر يا مادې نه جوړ وي يا د يوې ريښې څخه وي-

صورت روغ د خاور خامو دے رحمانه

چې په خامه چار نازيږي هغه خام دے (۳۳)

په دې بيت کښې خامو ، خامه او خام درې واړه ټکي د يوې ريښې څخه دي-

عاشقۍ ئې تر هغه حده بيهوش کړم

چې نه هوش لرم نه سر او نه سامان (۳۴)

دلته هوش او بيهوش هم د يو مصدر نه وتي ټکي دي-

## اقتباس:

په دې ډول صنعت کښې يو شاعر په خپل کلام کښې د قرآن پاک آيت يا حديث يا کومه مقوله پوره په پوره او يا د هغې څه برخه اخلي- د رحمان بابا په شاعرۍ کښې اقتباسات ډير ليدے شي لکه:

هر بخيل د خداي دښمن دے

ولو کان زاهدا (۳۵)

هميشه د بيلتانه د غمه لولم

زه رحمان نعوذبالله منها (۳۶)

په پورتنو بیتونو کښې د اقتباس سره سره د ملمع صنعت هم موجود دے - ځنې وخت شاعر په شعر کښې د څو یا د دوؤ ژبو استعمال وکړي دا صنعت ملمع ګڼلے شي- دې صفت ته ذوالفتین هم وئیلے کیږي -

## رد العجز:

د شعر ړومبۍ برخې ته "صدر" او وروستۍ برخې ته "عجز" وائي- کله کله شاعر په خپل کلام کښې د خاص لطافت او نوې معنې پیدا کولو په لړ کښې د شعر ړومبي ټکي د شعر په آخر کښې راوړي ، دې صنعت ته ردالعجز وئیلے کیږي لکه:

شام سحر مې دغه ستا زلفې رخسار دي
نور مې مه پوښته له شام و له سحره(۳۷)
خم قامت د دنیا کار کړې عمر واړه
اؤ په دوه رکعته نفلو نه شوې خم (۳۸)

## د صنائع معنوي لساني مطالعه

صنائع معنوي کښې د کلام حسن په الفاظ پورې نه بلکې په معنی باندې اړه لري د دې ګڼ قسمونه دي څه په یکښې سره د رحمان د شعرونو د نمونو دلته نقل کوؤ -

## تضاد:

دوه متضاد څیزونه چې یو ځائې ذکر کړے شي ، دې ته تضاد وئیلے شي - دا صنعت د طباق ، تناقض ، تقابل او مطابقت په نومونو هم بللے شي لکه :

وه عاشق ته د یار غم واړه ښادي ده
د رضا په ملک کښې نشته دلګیرۍ (۳۹)

اومه کله دي پاخه وائي واعظ
هر چې وائي واړه ښه وائي واعظ (۴۰)

په اولني بیت کښې غم او ښادي د یو بل ضد دي - دغسې په بل شعر کښې هم متضاد الفاظ راغلي دي۔

## ارسال المثل:

په کلام کښې متل راوړلو ته ارسال المثل وئیلے شي لکه:

زمکه هغه سوزي هر چې اور وربانديې بل وي
روغه خلقه شوه د رنځورو تماش بینه (۴۱)
چې له غرونو پریوتلي وي بیا پاڅي
پاڅیدے نه شي د زړونو پریوتلي (۴۲)

## عارفانه تجاهل:

په شعر کښي د لطافت او نزاکت پیدا کولو له کبله چې شاعر یوه معلومه خبره په داسې ډول بیان کړي لکه چې معلومه نه وي لکه :

خیال د زلفو ئې زما تر زړه چاپیر شو
یا تر ګنجه چاپیر شوې مار دي دا (۴۳)
ګرځي په چمن کښې منګل ډکه وړي له ګلو
خداي زده چې که زړونه په منګل (۴۴)

## ایهام:

دا هغه ادبي صنعت دے چې شاعر په کلام کښې داسې لفظ راوړي چې دوه معنے لري ،

يوه نزدې او بله لرې خو د شاعر مراد ترې لرې معنی وي، لکه:

نه مې اوښې پاتې شوې نه صبر په صورت کښې
ډېرې بې صبرېه د مخ آب راڅخۀ يوړو (۴۵)

په دې بيت کښې په ړومبۍ مصرعه کښې د "اوښې" کلمې له کبله په دويمه مصرعه کښې د "آب" کلمې ظاهري معنی "اوبو" ته د انسان ذهن ګرځي خو د دې مقصودې معنی پټ او عزت دے۔

## مراعات النظير:

په وينا کښې څه داسې څيزونه بيانول چې خپلو کښې مناسبت لري او تضاد پکښې نه وي:

که د ونې په څير ګل او ميوه غواړې
ځان په نمر که سايبان د هر خاکسار شه (۴۶)

په دې شعر کښې ونه، ګل او ميوه متناسب الفاظ دي۔

شين لوګې مې په سر چتر دونهه تخت دے
ګرد غبار د خپل دولت لکه ملنګ خورم (۴۷)

په دې بيت کښې لوګے، دونهه او ملنګ متناسبې کلمې دي۔

## عکس او تبديل:

کله چې يو څو لفظونه په يوه مصرعه کښې يو شان بيان کړے شي او په دويمه مصرعه کښې مخکښې وروستو کړے شي ، عکس ئې بولي لکه :

ما و درست جهان ته شا و تا ته مخ کړ
تا و درست جهان ته مخ و ما ته شا کړه (۴۸)

د بنو په ځنبول کښې
شال شړې کا شړې شال شي(۴۹)

## لف و نشر:

په کلام کښې د یو څو ځیزونو یو ځائې ذکر کول او بیا هغې سره مناسبت لرونکي ځیزونه بیانولو ته لف و نشر وئیلے کیږي- که دواړه ځایه ترتیب یو شان وي نو هغې ته لف و نشر مرتب او که ترتیب کښې ئې فرق وي نو هغې ته غیر مرتب او که د یو بل نه اپوټه وي نو ورته لف و نشر معکوس وئیلے شي لکه:

الف: لف و نشر مرتب:

د دانا او د نادان صحبت دے هسې
لکه ګڼه شي وبله لعل و کوتي لال (۵۰)

دلته د دانا په مناسبت لعل او د نادان په مناسبت کوتي لال په ترتیب سره بیان شوے دے-

چې دي وصل او هجران وته نظر کړم
زه ګومان کړم جنت دا دے سقر دا دے (۵۱)

په دې شعر کښې په ترتیب سره د وصل په مناسبت جنت او د هجران په مناسبت سقر راغلے دے-

ب- لف س نشر غیر مرتب:

ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوې شام ، شفق او صبحدم دي(۵۲)

په دې شعر کښې هم د زلفو په مناسبت شام او د رخسار په مناسبت صبحدم او د سرو

شونډو په مناسبت شفق راغلے دے خو ترتیب پکښې نشته ځکه ئې لف ونشر غیر مرتب بولي-

ج- لف ونشر معکوس:

خیال د زلفو ئې زما تر زړه چاپیر شو
یا تر ګنجه چاپیر شوے مار دے دا (۵۳)

په دې بیت کښې د زلفو په مناسبت مار او د زړه په مناسبت ګنج راغلے دے چې د اولنو ځیزونو نه ئې ترتیب اپوټه دے-

## حسن تعلیل:

یو ځیز چې په حقیقت کښې د یوې دعوې دلیل نه وي خو د هغې نه مزیدار دلیل جوړ کړے شي دې ته حسن تعلیل وئیلے کیږي لکه د رحمان بابا په لاندینو بیتونو کښې:

په صورت مې نرۍ تبه شوه ولاړه
تا چې دواړه سترګې تورې کړې نرۍ (۵۴)

ښاپیرۍ چې لیدے نه شي سبب دا دے
مخ د ستا له شرمه نغاړي په حجاب (۵۵)

## مبالغه:

د یو ځیز ښه والے یا بد والے په داسې انداز کښې ذکر کول چې په حقیقت کښې داسې نه وي- دا په درې ډوله دے:

## الف- تبلیغ:

په کلام کښې داسې مبالغه چې د عقل او عادت له مخه ئې واقع کیدل ممکن وي لکه:

چانه پیژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کښې

اوس مې ستا له رويه نوم رسوا په درست جهان دے(۵۶)

ب-اغراق:

داسې مبالغه چې عادتاً ناممکنه وي خو عقل ئې مني چې داسې کار کيدے شي لکه:

يو عاشق دې ځوک راوښيي په عشق کښې

چې ئې رود په مخ د اوښکو روان نه وي

ج- غلو:

غلو هغه مبالغه ده چې عقل او عادت دواړۀ ئې نه مني لکه رحمان بابا وائي:

غرونه دي نړيږي چې زما په حال خبريږي

سيند د اوښکو درومي چې راغلې د کوهساره (۵۷)

تنسيق الصفات:

په کلام يا بيت کښې د يو څيز پرله پسې صفتونو بيانولو ته تنسيق الصفات وئيلے شي لکه:

دا ځه مخ دے منور

چې هم شمس دے هم قمر(۵۸)

دا ځه زلفې دي مشکينے

چې هم مشک دے هم عنبر (۵۹)

صنعت تقسيم:

چې په کلام يا شعر کښې ګڼ شيان ذکر شي او بيا هر يو ته خپله متعينه معنى منسوب کړے شي ، چې د فلاني شي تعلق د فلاني شي سره دے لکه:

هغه خدائے چې ئې ستا مخ بله لنبه کړو
دا لنبه ئې کړه زما په ګوګل پورې (۶۰)

زلفې دې سایه کړې مخ دې اور په جهان بل کړۀ
هر چا ته چې ګورم نیم په نمر دې نیم په سورې (۶۱)

توجیه:

داسې شعر چې د هغه دوه متضاد معاني ولاړیږي لکه:

په نظر د هغو خاورې سرۀ زر کیږي
هر چې نه لري نظر و سیم و زر ته (۶۲)

دلته هم دواړه معنے راوځي- یعني خاورې سرۀ زر کیږي یا سرۀ زر خاورې کیږي-

صنعت مخاطبه:

په دې صنعت کښې شاعر په خپل کلام کښې ځانته مخاطبه کوي ، دا مخاطبه په مطلع او مقطع دواړو کښې ممکنه وي لکه:

اې رحمانه اول ته نصیحت واخله
دغه پس بیا و بل ته نصیحت کړه (۶۳)

ذخیره د دنیا مه کوه رحمانه
دا همه واړه د خاورو ذخیرې دي (۶۴)

صنعت تعجب:

کله چې په کلام یا شعر کښې د خوند او مزې پیدا کولو د پاره په خبره د تعجب اظهار وشي، نو صنعت تعجب ئې بولي لکه:

د رحمان و سوزان شعر ته حیران یم
چې ئې اور بل شوے نه دے په دیوان (۶۵)
چې مدام د بل وَ عیب وَته نظر کړي
خدائے له خپله عیبه ولې ناخبر کړي (۶۶)

## مدعا مثل:

کله چې د شعر په یوه مصرعه کښې مدعا بیان کړے شي او په ورپسې مصرعه کښې د ثبوت د پاره مثال راوړے شي ، دې ته مدعا مثل وئیلے کیږي لکه :

نصیحت د ناصحانو اثر نه کا
د سړې اوسپنې خوشي ټکول دي (۶۷)
خزانه په سخاوت سره زیاتیږي
د کوهي اوبه چې وکاږې بسیار شي (۶۸)

لنډه دا چه د رحمان بابا ټول دیوان د بدیع په ادبي فن رنګین دے- هغه ډیر په ساده ، روانه او ګل ورینه ژبه کښې د شعري محاسنو یو بې مونږ ته په میراث کښې راپیرځو کړے دے- د هغه غوندې آفاقي شاعر په کلام کښې دا صنعتونه یا شعري محاسن دومره په فطري اندازاو بې تکلفۍ په یو اندازه او مناسبه توګه داسې راوستے دي چې مثال ئې راوړل ګران دي-په دې حقله حنیف خلیل د رحمان بابا د کلیات په مقدمه کښې لیکي:

" رحمان بابا سره معنی او مقصد هم سپیځلې دې خو شعري هیئت یې هم ډیر حسین ورکړے دے او دغه شان یې د صورت او معنویت د حسین امتزاج نه د خپل شعر په حسن افاقیت کښې اضافه کړي ده- د شعري پیکر د ښکلا د پاره د پښتو پخوانو شاعرانو د صنائع بدایع او بیان اډانه ډیره اخستې ده او د هغه وخت د مزاج او ماحول مطابق د رحمان بابا شاعرۍ کښې هم دغه رنګونه شته خو د رحمان بابا نورو شاعرانو سره فرق دا دے چې د کلام د جاج نه پس داسې

معلومیږي چې نورو په ډېر کوشش ، مطالعه او دماغ سوزۍ په خپل شعر کښې بیلا بیل صنعتونه ځائې کړي دي خو د رحمان بابا په شاعرۍ کښې دغه صنعتونه هم ډېر په بې ساخته توګه راغلي دي"- (۶۹)

لکه څنګه چې رحمان بابا د شعر په میدان کښې د استاد او امام درجه لري دغه شان د علم بدیع په حواله هم مرشد او لاربنود حسابولے شي- د هغه کلام د هر رنګه شاعرانه صنعتونو او محاسناتو نه ډک دے او په دې حواله په پښتو ادب کښې د دې ثاني په ګوتو نه راځي- د اوچت خیال، اعلیٰ تصور سره سره د هغه په کلام کښې دومره باریکۍ او رنګینۍ دي چې هر لوستونکې ترې ډیره په آسانه خوندونه اخستے شي- ځکه چې د شاعرۍ دا هنرونه ئې په دومره استاذۍ سره په خپل کلام کښې راغونډ کړي دي چې سادګي، سلاست او رواني پکښې قائمه ده او دې کښې پیچیدګي بیخي نه ښکاري- د دې نه د رحمان بابا د فن د لوړ معیار اندازه لګي چې په هر چا اثر کوي –

## حواله جات (References):


۱۔ تفهیمي ساجد الله، دکتر، فرہنگ اصطلاحات علوم ادبي،، اسلام آباد، مرکز تحقیقات فارسی، ایران وپاکستان، ۱۹۹۶ء، ص ۸۵

۲۔ نورالحسن نیر، مولوی (مؤلف) نوراللغات، اسلام آباد، نیشنل بک فاؤنڈیشن، ۱۹۷۶ء

۳۔ عبد المجید (مؤلف) جامع اللغات، لاہور، ملک دین محمد اینڈ سنز، س ن

۴۔ محمد حنیف گنگوہی، مولانا، نیل الامانی شرح اردو، جلد دوم، کراچی، مکتبہ بحر العلوم، س ن، ص ۳۵۶

۵. هم دغه ، ص ۳۵۷

۶. هم دغه ، ص ۳۵۵

۷۔ سید عابد علی عابد، پروفیسر اصول انتقاد ادبیات، لاہور، سنگ میل پبلی کیشنز، ۲۰۰۶ء، ص ۲۲۶

۸۔ اصغر علی روحی، مولانا، دبیر عجم، صاحبزادہ ابو سعید رشید جالندھری، مترجم، لاہور، آزاد بک ڈپو، س ن، ص ۱۷۳

۹۔ بحوالہ اصغر علی روحی، مولانا، دبیر عجم، ص ۲۸۲

۱۰۔ نجم الغنی، مولوی، بحر الفصاحت، جلد دوم، لکھنو، اتر پردیش اردو اکادمي، س ن، ص ۸۹۲

۱۱۔ محمد عسکری، مرزا، آئینہ بلاغت، لکھنو، اتر پردیش اردو اکادمی، ۱۹۳۶ء، ص ۴۸

۱۲- تسنیم الحق کاکا خیل، سید، روح ادب، ، پښتو اکیډیمي، پیښور یونیورسټي، دویم ځل، ۱۹۸۷ء، ص ۹۸

۱۳- اقبال نسیم خټک، ډاکټر، خوشحال او جمالیات، پښتو اکیډیمي پیښور یونیورسټي، اول ځل ۱۹۸۷ء، ص ۵۳۲۔۵۳۳

۱۴- یوسفزے، مشتاق مجروح، زرکاڼے، پیښور، تاج کتب خانه، جون ۱۹۹۸ء، ص: ۴۹

۱۵۔ طٰہٰ خان، پروفیسر، دیباچہ مشمولہ کلیات رحمان بابا، اردو ترجمہ پروفیسر طٰہٰ خان، پشتو اکیڈیمی، پشاور یونیورسٹی، نومبر ۲۰۰۶ء، ص ۸

۱۶- حقپال، محمدا جان، د رحمان بابا په اشعارو کښې د بدیع فن مقاله مشموله د رحمان بابا د سیمینار مقالې، کابل ، د فرهنگ او ادب ریاست، د لړم میاشت ۱۳۸۴، ص ۳۱۳

۱۷- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ، پیښور رحمان ادبي جرګه، ۲۰۰۷ ص ۳۰۸

۱۸- هم دغه ، ص ۳۸۲

۱۹- هم دغه ، ص ۲۷

۲۰- هم دغه ، ص ۲۸۰

۲۱- عبدالرحمن، د عبدالرحمن باب دیوان، مقدمه و ترتیب سید رسول رسا ، یونیورسټي بک ایجنسي، مارچ ۲۰۰۹ء، ص ۱۷۵

۲۲- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل ، ص ۱۰۳

۲۳- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ، پیښور، زیب آرټ پبلیشرز ۲۰۰۴ ، ص ۱۵۴

۲۴- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل ، ص ۳۹۰

۲۵- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۵۳

۲۶- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۱۲۰

۲۷- هم دغه، ص ۲۰۰

۲۸- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ، ص ۷۶

۲۹- هم دغه ، ص ۳۸۵

۳۰- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۵۷

۳۱- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل ، ص ۱۰۴

۳۲- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۲۴۶

۳۳- هم دغه، ص ۳۴۶

۳۴- هم دغه، ص ۱۶۵

۳۵- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل ، ص ۵۱

۳۶- هم دغه ، ص ۴۵

۳۷- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۲۰۳

۳۸- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۱۱۱

۳۹- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۱۸۲

۴۰- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۹۰

۴۱- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۲۴۰

۴۲- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۲۰۵

۴۳- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۱۲

۴۴- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۹۸

۴۵- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۱۰۲

۴۶- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۱۴۶

۴۷- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۱۴۷

۴۸- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۱۱۲

۴۹- هم دغه ، ص ۲۹۶

۵۰- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۹۹

۵۱- هم دغه، ص ۱۶۰

۵۲- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۲۷۱

۵۳- هم دغه، ص ۱۲

۵۴- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا ، ترتیب و مقدمه افضل رضا ، ص ۱۸۰

۵۵- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا ، مقدمه پروفیسر محمد الله خلیل، ص ۶۱

۵۶- هم دغه، ص ۳۴۷

۵۷- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا، ترتیب و مقدمه افضل رضا، ص ۱۳۹

۵۸- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا، مقدمه پروفېسر محمد الله خلیل، ص ۸۲

۵۹- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا، ترتیب و مقدمه افضل رضا، ص ۶۸

۶۰- عبدالرحمٰن، د رحمان بابا دیوان، مصحح، مدون او مقابله کوونکے: عبدالرؤف بینوا، کابل، عمومي مطبعه، ۱۳۲۸ه، ص ۱۳۲

۶۱- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا، مقدمه پروفېسر محمد الله خلیل، ص ۲۶۴

۶۲- هم دغه، ص ۱۹۱

1. ۶۳- هم دغه، ص ۲۱۳

۶۴- هم دغه، ص۲۸۹

۶۵- هم دغه، ص ۱۶۷

۶۶- عبدالرحمن، دیوان عبدالرحمن بابا، ترتیب و مقدمه افضل رضا، ص ۱۸۴

۶۷- ، هم دغه، ص ۱۶۷

۶۸- عبدالرحمن، کلیات عبد الرحمن بابا، مقدمه پروفېسر محمد الله خلیل، ص ۲۸۷

۶۹- عبدالرحمن بابا، د رحمان بابا کلیات، سریزه حنیف خلیل، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل / ۲۰۰۵ء، ص ۲۲.